نظرمحمد مطمئن ۲۰۱۶/۰۵/۰۳

# خواله رسنیو کې د املاء او انشاء ستونزه

سریزه

په ښوونځي کې استادانو له موږ سره د املاء او انشاء د سمې زده کړې له پاره ډېره زیاته خواري کښله، ډېر کم داسي زده کوونکي پیدا کېدل چې هغوی به تر اووم ټولګي وروسته ستونزه درلوده، او کله چې به له نهم او یا دولسم ټولګي څخه یو زده کوونکی فارغ شو بیا خو سوال نه پیداکېدی چې هغه دي په املاء او انشاء کې ستونزه ولري.

د حسن خط اړوند هم له زده کوونکو سره استادانو زیاته خواري کښله، او تر ډېره د هجرت پر مهال په ښوونځیو کې دغه ستونزه حل وه، زده کوونکو هم د خپلمنځي رقابت له امله هر یوه هڅه کوله چې ښه ښایسته لیک ولري.

په تیرو پنځلس کلونو کې سمه ده چې د ښووني او روزني په برخه کې یو لوی پرمختګ وشو، ولي ځیني ستونزې هم ورسره راپیداشوې دي، استادان په ښاري او کلیوالو سیمو کې تر ډېره د مسؤولیت احساس نه کوي، یواځي ورځ تیروي تر څو هغه ټاکلی د حاضري وخت یې پوره شي.

په لیري پرتو کلیوالو سیمو، د ولسوالیو مرکزونو او دا ډول په ډیرو ښاري ښوونځیو کې د استادانو خپله سویه هم ډیره ټیټه وي، یا خو زده کوونکو ته د درس ورکولو هغه ډول چې په کار وي توان او استعداد نه لري او یا داچي په واسطه پر دنده ګومارل شوی وي بیا نو د مسؤلیت احساس هم نه کوي.

داسي ښوونځي هم په لیري پرتو سیمو کې شته چې د څلورم ټولګی څخه فارغ کس د دوېم او درېم ټولګي زده کوونکو ته درس ورکوي، کله چې د یو استاد سویه دومره ټیټه وي له هغه څخه به زده کوونکی څه زده کړي.

په شخصي ښوونځیو کې تر ډیره په کندهار، خوست، ننګرهار او کابل کې په لومړیو کلونو کې هڅه کېدله چې د خلکو د جذب له پاره د کوزي پښتونخوا څخه نوي ځوانان د زده کوونکو د درس ورکولو له پاره راولي، هغوی چې خپله پښتو سمه ویلای نه شي او لیکل خو پر ځای پریږده، همدا هم یو منفي لامل وو چې په شخصي ښوونځیو کې ورته توجه ونه شوه او لا هم په ځینو شخصو ښوونځیو کې همدا ستونزه لېدل کیږي.

ډیری هغه ځوانان چې د پاکستان په دولتي مکاتبو او یا پوهنتونو کې یې زده کړې کړي هغوی هم د پښتو لیکدود، املاء او انشاء سره تر ډیره بلد نه دي، کله چې یې په افغاني ښوونځیو کې د تدریس چارې پر مخ وړي او یا هم لګیا دي داکار کوي دا بله ستونزه ده چې د املاء او انشاء سمې زده کړې ته توجه نه کیږي.

په دولتي ښوونځیو کې د زده کوونکو شمیر پرته له پلان څخه یو ناڅاپه ډیر زیات شو، او په ښوونځیو کې په کار ده چې د هر مضمون له پاره وړ او لایق استاد وګومارل شي، داچې هیواد او د پوهني وزارت د استادانو له کمبود سره مخ و، له دې امله د کیفیت پر ځای کمیت ته توجه وشوه او په ښوونځیو کې د پښتو او دري مضمونو له پاره وړ او مناسب استادان ونه ګومارل شول، نه یواځي د پښتو او دري بلکي د ساینسي مضامینو اړوند هم له دې زیاتې ستونزې لیدل کیږي، داچې زما بحث د املاء او انشاء اړوند دی څکه په ښوونځیو کې په نورو ستونزو اوس همدلته بحث نه کوم. تل د پوهني وزارت لوړپوړیو چارواکیو پر هغو شمېرو بسنه کړې چې د دوی د راپوروُنو له مخې په ټول افغانستان کې په کومه کچه زده کوونکي ښوونځیو ته ځي؛ له بده مرغه د کیفیت اصل تر ډېره هېر شو.

داسي ډیری کسان شته چې له دولسم ټولګي څخه فارغ شي کله لیک پر کوم کاغذ ولیکي لوستل یې مشکل وي، د املایي تېروتنو څخه ها خوا دا ستونزه هم وي چې له کلیمو څخه مفهوم نه اخیستل کیږي او لیک یې ښکلی هم نه وي.

## په رسنیو کې د املاء او انشاء ستونزه

په رسنیو کې بیا د املاء او انشاء ستونزه تر ډېره پېنتو لیکنو، راپوروُنو او د پېنتنو ویاندویانو په و خبرو کې لیدل کېږي. د دې ستونزې لامل تر ډېره ښایي دا وي چې لیکوال او خبریال مو زیاته برخه مطالب او راپورونه له دري ژباړي. د ژباړې پر مهال د نه دقت او یا د ژباړې پر فن د نه برلاسي له امله تري پېنتو ترکیبونه او د جملو جوړښتونه هېر شي او په پایله کې د متن یوازې کلمې پېنتو وي، نور ترکیب او جوړښت یې د دري وي. له بلې خوا په پلازمینه کې له پېنتو څخه په علمي، خبري او تعلیمي ډګرونو کې د ځوانانو لرېوالی په خپله د دې لامل شوی چې پېنتانه پېنتو سمه ونه لیکلی او ونه ویلی شي.



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په خیر و لولئ

په خواله رسنيو کې بيا دا ستونزه دومره زياته ده که همداسې دوام وکړي ممکن چې زموږ نوی نسل زده کوونکي له لويې ستونزې سره مخ کړي، ځکه کله چې هغه ناسم او د املايي تېروتنو څخه ډکه ليکنه پر فيسبوک او يا ټويټر ګوري فکر کوي چې هغه به د املاء له مخې سمه وه، ځينې شيان به يې په ذهن کې د همدې خواله رسنيو څخه کښيني او همدا تېروتنه به نوی زده کوونکی هم کوي.
زما هيله ده هغه ورونه چې خواله رسنيو کې خپل د زړه خبره ليکي او يا پر کومه موضوع څه ليکي په مسؤليت سره هر څه اداء کړي، د ليک املاء او انشاء ته پوره پام وکړي.
تر ټولو زيات مسؤليت په دې برخه کې د ښوونځيو د پښتو ژبې استادانو ته متوجه دی، چې په دې برخه کې زموږ ځوان نسل ډيرې ستونزې ځکه لري چې استادانو دوی ته د درس ورکولو پر مهال توجه نه ده کړي.
فساد چې په تيرو ۱۴ کلونو کې د هيواد د ادارو په هره برخه کې مروج و او اوج ته ورسيدې د ښوونځيو دروازې هم فساد ور وټکولې، حتی تر دې چې ډيری داسې کسان شته چې ممکن څلورم او پنځم ټولګی يې هم نه وي لوستی خو اوسمهال د ۱۲ ټولګي د فارغ شهادت نامه په لاس کې لري. همدا کس بيا د همدې سند له مخې له چارواکو سره د روابطو درلودو له امله په کوم ښوونځي کې سرمعلم او يا هم په کومه بله دنده ګومارل کيږي.
زه چې دلته مسؤليت په ښوونځيو کې د پښتو ژبې استادانو ته راجع کوم، ځکه دا خبره کوم چې د پوهنې وزارت څخه اوس مهال د دې ستونزې د مخنيوي توقع نه کيږي هغوی پر نورو کارونو بوخت وي، کله چې په نصاب کې املايي او انشايي تېروتنې وي، کله چې په نصاب کې د پرديو د خوښې کلمات پر ځای کيږي او کله چې په نصاب کې هڅه کيږي زموږ کلتوري ارزښتونو ته بدلون ورکړل شي بيا له هغوی څخه موږ کومه توقع ولرو.
په تيرو ۱۴ کلونو کې دا هم ستونزه وه چې آيساف او ناټو د بريښناپاڼو سربيره ځينې ورځپاڼې او راډيوګانې درلودلې او له دوی سره په مطبوعاتي برخو او نورو برخو کې کارکوونکي تر ډيره دري ژبي وو، هغوی چې به پښتو ته د آيساف او ناټو کومه انګليسي ليکنه ژباړله نو له املايي تېروتنو سربيره به يې په مفهوم کې هم تېروتنې درلودلې. د دغسې خامو ژباړو پايله ډېرو ته د ژوند او مرګ په بيله پرېوته .
دا ډول په تيرو کلونو کې ناټو او ايساف او اوسمهال ځينو پټو ادارو د ټولنيزو رسنيو په ځانګړي ډول فيسبوک لپاره ځينې کسان په دندو ګومارلي دي، بيا هم د وړتيا او دقت خبره نه ده، يواځې هڅه شوې چې د ناټو، ايساف او دولت په ګټه کوم څه پر خپله پاڼه وليکي، دا ډول ناټو او ايساف بيا هم د پښتو ليکنو له پاره په ځينو مواردو کې له دري ژبو څخه کار اخيستی دی.
بل خوا طالب پلوه او حکومت پلوه ځينې ځوانان هم د املاء او انشاء په نه مراعت کولو سره په ټولنيزو رسينو کې په پراخه کچه ليکل کوي، هسې هم د ديني علماوو د املاء او انشاء ستونزه زموږ په هيواد کې له ډيره وخته شتون لري، ولې که په بې پروايې سره دوام پيداکړي په راتلونکې کې به د نويو نسلونو له پاره ښکاره ستونزه وي.
کوم سوداګريز اعلانونه چې د کاغذ پرمخ په پاکستان کې ليکل کيږي او په ځانګړي ډول د ولسي جرګې او ولسمشريزو ټاکنو پر مهال کوم بينرونه په پاکستان او ايران کې ډيزاين او ترتيب کيږي په دغو اعلانو کې هم ډير وخت املايي او انشايي تېروتنې وي.
د جلال آباد ښار کې پر يوه پاکټ باندې مې وليدل چې د اصل پر ځای يې عسل ليکلي وو.
په ټولنيزو روسنيو کې ځينې وختونه فاحشې تېروتنې تر سترګو کيږي چې د املايي تېروتنې سربيره مفهوم هم تغير کوي.
اميد دی چې د ښوونځيو د پښتو او دري ژبو استادان تر بل هرچا خپل مسؤليت ته زيات متوجه شي، دا ډول زموږ ځوانان چې ټولنيزو رسنيو ته لاسرسی لري د ليکلو پر وخت له پوره احتياط او دقت څخه کار واخلي.
نه پوهيږم چې څومره به شوني وي که کومه اداره پر دې کار وکړي لکه د انګليسي سپيل چيک او د پښتو کليمي بېلابېل مترادف معناوې، ترڅو د لويو تيروتنو مخنيوي له دې لارې هم ونيول شي.
داچې پښتو ژبه د ګوګل د ژباړو په کتار کې ودريده د دغې ژبې د ويونکو له پاره پوره د خوشالي خبره ده، خو په دې بسنه کول نه ده په کار، بايد ژباړه يې قوي شي، تېروتنې وخت په وخت پکې اصلاح شي او دا ډول د پښتو ګرامري او ليکلي تېروتنې د وخت په تيريدو سره سمې او په دې برخه کې نوښت کوونکي کسان کار وکړي.
ولې اساسي حل لاره داده چې استادان زده کوونکو ته د درس ورکولو او زده کوونکي د ليکلو پر وخت خپل مسؤليت ته متوجه وي.

پای


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بني پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په خير و لولئ